# د حمزه بابا په جمالیاتي افکارو د مغربي عالمانو اثرات

# THE INFLUENCE OF WESTERN THINKERS ON HAMZA BABA'S AESTHETIC THOUGHTS

Mohammad Haroon*

Abstract:

This research paper discusses in detail the similarities with and influence of Western philosophers on Hamza Baba's poetry in terms of aesthetic thoughts. Hamza Baba seems heavily influenced by Socrates, Plato, Saint Augustine, Hogart, Winckelmann, Edmund Burke, Richard Price and Theodore Lipps. In his aesthetic thoughts: aesthetic intuition, perfectionism, diversity and variety, beauty and sublimity, Einfuhlung, dynamic theory of beauty and aesthetic rationalism are highly significant.

Keywords: Aestheticism, Intuition, Aesthetic rationalism

## د حمزه بابا په جمالیاتي افکارو د مغربي عالمانو اثرات

د حمزه بابا د فکر او فن په حواله د څېړنکارو څېړنه او تحقیق لاروان دے، د هغوي فکري، علمي او ادبي اثار دا څرګندوي چې هغه یو لوئے صوفي، درویش ، او فلسفي انسان وو۔

که یو خوا هغه د غزل بابا وبللے شو نو بل اړخ ته ئې په شعور او تخیل دروحانیت، رومانیت او پښتونولۍ بې حده اثرات غالب ښکاري ـ دحمزه صاحب په کلام کښې د مختلفو علمونو نخښې نخښانې په څرګند ډول برېښي۔ د هغه په شاعرانه کلام او نثري لیکونو کښې د تصوف، نفسیات، فلسفه، رومانیت، طنزو مزاح او صنائع بدائع نه علاوه د جمالیاتو، دحُسن او ښکلا د علم او دافکارو اونظریاتو ترجماني هم شته ـ

د ژورې معالعې لویه نخښه ئې داده چې په افکارو کښې ئې د مشرقي او مغربي جمالیاتي دانشورانو نظریات په فراخه ډول ښکاري۔ په دې مقاله کښې به مونږ په تفصیلي توګه د هغه جمالیاتي افکارو جائزه اخلو چې د مغربي جمالیاتو نه هغه څومره متاثره وو۔

---

* Associate Professor, Government Degree College Katlang Mardan

او دغه افکارو سره ئې نظریات او افکار ځومره سمون او مماثلت لري. د هغه جمالیاتي رجحان زیات تر د نظریاتو طر ف ته دے. د حُسن او ښائست دهرې زاویې ، اړخ او لوري زبردسته ترجماني کوي. یو یو جُز ته ځان ځنګه رسوي، د هغه جمالیاتي نظر د حُسن جلال او جمال په دواړو سترګو ګوري. د هغه روحاني سفر د جلال او جمال په دواړو وزرو سر ته رسي. د هغه کمال دادے چې د مشرق او مغرب د پوهانو د نظریاتو سره سمون لرونکي نظریات او افکار ځومره په خوندور انداز کښې استعمالوي.

د حمزه تخیل که رنګین دے نو هم د جمال له مخه. که زړۀ ئې غمګین دے نو هم د جلال له طفیله ، او که احساس ئې ګل ورین دے نو هم د کمال له برکته .

هغه د جمال ، جلال او کمال ټول رنګونه خپل کړي دي. د هغه ذوقِ جمال غورځنګونه وهي، په فطرتي مناظرو کښې ئې ننداره وکړئ.

ے سپرلے شو د ګل مخو تماشا ته مې زړۀ کیږي
بې کور له نکهت شومه بیدیا ته مې زړۀ کیږي(۱)

که د ښکلو په ښائست ئې سترګې لګي نو وائي

ے زما نظر د ښکلو وړے نۀ دے
زۀ په هر یو کښې ستا نظیر غواړم (۲)

حمزه صاحب د ښکلا جزوي ادراک او کلي ادراک دواړه مني، د مطلق حُسن د کلي ادراک د پاره دباطني بصیرت ، کشف او وجداني مشاهدي سره د کمال مشاهدې قائله دے. او په جزوي ادراک سره د ازلي حُسن د تجلیاتو او انواراتو په جدا جدا مظهر کښې د یوې یوې جلوې، پړق، عکس او پر تو قائله دے.

حمزه صاحب په جمالیاتي نظریاتو ، اصطلاحاتو او افکارو کښې هم د مشرق او مغرب ډېر زیات اعتدال او توازن ساتلے دے. که یو اړخ ته هغه د مغربي نظریاتو څرګندونه کړې ده نو بل لوري ته ئې مشرقي جمالیات هم د نظر نه نۀ دي غورځولي.

د مغرب د فلسفیانو سره ئې فکري مماثلت هم شته او د هغه په فکر ، تخیل، تصور او شعورئې زبردست اثرات ښکاري. د حمزه په شاعرۍ کښې مغربي ، مشرقي جمالیات ، مجازي حُسن او فني جمال بې حده زیات دے.

خو په دې مقاله کښې به مونږ صرف د مغربي پوهانو د نظرياتو او افکارو سره سمون لرونکي نظريات وړاندې کوو.

حمزه بابا د افلاطونس، اگستائن، هوگارتھ، پرائس، ايډمنډبرک ونکل مان، سقراط، او لِپس غوندې فلسفيانو نه ډېر زيات اثر اخستے دے.

د وجدان، د حُسن د جلوو او نشان، د تکميل او کمال، د جلال او جمال د بوقلموني او تنوع، د کرِلېچونو، د ښائسته شړلوالي په حقله په خپل نقطهٔ نظر کښې د دغه عالمانو سره همنوا او هم خيال دے.

حمزه صاحب د حُسن د ذوقِ جمال له برکته نه يواځې داچې د مغرب د علمونو ژوره مطالعه کړې ده بلکه د مشرقي تصوراتو او رجحاناتو نه ئې هم ځان خبردار ساتلے دے.

هغهٔ په مشرقي جمالياتو کښې د جمالياتي وجدان، جمالياتي حېرت ، جمالياتي آن او لمحه، حظ و مسرت، غنم رنگے حُسن او د زړهٔ د بصېرت ښکلا ډېر په زړهٔ پورې انداز کښې بيان کړې دي.

حمزه بابا په مجازي ښائست کښې هم د غنم رنگي حُسن، ملاحت، ستر، حيا، پاکدامنۍ، جلال، عظمت، تناسب، سادگۍ او شړلوالي قائله دے. د هغه په تخيل کښې دغه عناصر، صفات او توکي غزونې کوي. حمزه صاحب په هر څهٔ کښې د حُسن وجود تسليموي.

حمزه صاحب ليکي چې د جمالياتي مشاهدې په دوران کښې جزوي ادراک سره د حُسن يو پړق په نظر راځي او د کلي ادراک سره ټول حُسن حُسن وي. هغه وائي چې هر انسان ښکلا په دوه ډوله محسوسوي او ښکلا په خپله هم په دوه قسمه ده. ۱. مجرده ۲. مخلوطه

مجرده ښکلا په فطري مناظرو کښې او په نغمه کښې وي، خو په دې شرط چې د نغمې سره د يو انسان غږ شامل نهٔ وي او مخلوطه داده چې د نغمې سره د يوې ښځې يا هلک غږ شامل وي. د حُسن ادراک او احساس په درې قسمه کيږي .

i. وړومبے په فطري مناظرو کښې، دامکمل روحاني کېف و سرور پېدا کوي.
ii. دويم په نغمه (موسيقۍ) کښې ، چې دا مجرده نغمه خالص روحاني وي. چې انساني اواز پکښې نهٔ وي شامل.

iii. په انساني پېکر کښې کامل حُسن دے. دے د حُسن مرکز دے په دې کښې روحاني او جنسي دواړه شامل دي.

حسن همه خېر دے.

په معنويت کښې ټول جمال جمال دے او په دې کښې د قبح او بدرنګئ ګنجائش نشته، او هم دغه حسن ژوند او خېر محض دے. د مادي څېزونو تړون د کثافتونو د جهان سره وي چرته چې د حُسن او قبح ترمېنځه فرق کولے شي خو معنوي جمال د علوي او غير مرئي جهان سره تعلق لري. چرته چې په معنويت او حقيقت کښې هر څۀ ښائسته وي. دغه ښکلے تصور قرآن هم وړاندي کړے دے او هر څۀ ئي ښکلي بللي دي. الذي احسن کل شي خلقه (الايه) نو په معنويت او باطن کښې چي هر څۀ حسن شو نو دلته د بدرنګئ تصور ختم شو. حمزه بابا د کامل ادراک له کبله په هر څيز کښې حُسن ويني. ځکه خودهغه دغه نقطۀ نظر دپاره دا شعرونه کافي دي.

په نظرنظر کښې فرق دے نورڅۀ نۀ دي
په دنيا کښې هر يو شے لري زېبا مخ (۳)

ضد د حسن به هم حسن درمعلوم شي
ځېر کړه ژوند له مخالفې زاويې نه (۴)

په خپل حسن کښې محوه بدرنګي محسوسوي
قدرت خو بس جميل دے او جمال پېدا کوي (۵)

حمزه او ذوقِ جمال: (AESTHETIC TASTE)

دښکلا نه د مسرت او خوند اخستو قوت ته جمالياتي ذوق وائي. د ذوقِ جمال تنده ورځ ترورځه زياتيږي. او دا تنده ځکه برقرار وي چې انسان د حُسن د نوي نوي جلوو سره اشنا شي. حمزه صاحب دښکلا بې حده پرستار دے، او اوچت ذوقِ جمال لري د حمزه د ذوقِ جمال معيار خو اوځيروئ.

ے سپرلے شو د ګل مخو تماشا ته مې زړۀ کيږي
بې کور لکه نکهت شومه بيديا ته مې زړۀ کيږي (۶)

ے سېر نۀ يم په سېر د ښکلي يار د ګلستان

دريغه که ربېارمې پکښې نور وګرځوي (۷)

ښکلا بې ژونده ، ژوند بې ښکلا نه

عبث خبرې خوشې قيصې دي (۸)

جمالياتي حظ و مسرت:(AESTHETIC PLEASURE AND HAPPINESS)

دجمالياتي منظر او معروض په ليدو چې کوم خوند او لطف حاصلولے شي او زړۀ او روح ته بې غرضه، دمادي فائدې نه بې لوثه خوشحالي ورکوي نو دغه جمالياتي حظ و مسرت بللے شي۔

حمزه صاحب د حسن و جمال نه محظوظ کيږي

په ليدو ئې مړاوي زړونه تازه کيږي

عطا کړے ورته رب سدا بهار مخ (۹)

دنيا د تخيل مې ګلورينه غوندې ښکاري

خندا چې ستا په سروشونډو ريښمينه غوندې ښکاري (۱۰)

حمزه بابا اکثر د روحاني کېف و سرور د پاره د حُسن او جمال مشاهده کوي ځکه چې هغه يو صاحبِ حال صوفي دے۔

تسکين د زړۀ پکار دے که په ورد که وظيفه وي

لاچاته له قسمته شي حاصل په چنګ و دف کښې (۱۱)

دحمزه بابا سمعي مشاهده هم روحاني ده، د معرفت او روحانيت د رازونو نه ډکه ده۔ هغۀ د ناسوتي عالم په ساز و سخن (شاعرى) کښې ملکوتي احوال او کېفونه محسوسوي۔ لکه چې وائي

هر سحر ملک د شعر کړي حمزه ته الهامونه

کېف پکښې ملکوتي وي، ناسوتي ساز په سخن کښې (۱۲)

هغه چې د مجازي حُسن بصري مشاهده کوي نو داسې وائي

زور د ګلانو شو اشنا راغے

سترګې زما په مړېدو ښکاري (۱۳)

د ظاهري مجازي حسن جمالياتي مشاهده په ظاهري حواسو او عقل کيږي ـ او دباطني جمالياتي مشاهدې د پاره وجدان، کشف او بصيرت پکار راځي ـ دحقيقي حسن د جمال مشاهدې ته په سالک کښې د برداشت طاقت وي۔ او دجلال مشاهدې ته نۀ شي ټينګيد ے۔

حمزه صاحب چې د حقيقي حُسن د جلال مشاهده کوي نو بې تابه او بې توانه ورته پاتې شي۔

ــ ته چې راښکاره شې د وجود بڼه مې وسوزي
نور څۀ پاتې نۀ شي دوه لېمه مې د تن پاتې شي (۱۴)

ــ نمر چې پلوشې وکړي او اوبو ړنيږي شپې تربنه
ستا دمخ برېښنا څۀ وه نظر ئې رانه يوړو (۱۵)

قبح: (Ugliness)

بدرنګي او قبح ډېر خلق د حسن متضاد ګڼي خو حقيقت کښې داسې نۀ ده، دجمالياتو پوهانو وئيلي دي چې څنګه ازغي د ګل د ښکلا او قدروقيمت سبب ګرځي هم دغه شان بدرنګي هم د ښکلا په څرګندولو کښې لوئے کردار ادا کوي او دا هم روښانه حقيقت دے چې که تيارۀ نۀ وے نو د رڼا احساس به څنګه کېدو، که تراخۀ څيزونه موجود نۀ وے نو خوارۀ به چا څنګه محسوسول؟ که د خزان موسم نۀ راتلے نو دسپرلي د ګلونو او ښائست به څوک څنګه پامته دار کېدل؟

حمزه بابا په دې تناظر کښې څۀ عجيبه وېنا کړې ده۔

ــ چاوئيل چې په قبيح کښې ښکلا نۀ وي
که هغه په مخ بدرنګ و شکر غړ ؤ (۱۶)

ــ ضد د حُسن به هم حُسن درمعلوم شي
ځېر کړه ژوند دمخالفې زاويې نه (۱۷)

جمال او جلال: (BEAUTY AND SUBLIMITY)

جمال او جلال دواړه د حسن جهتونه، اړخونه او ځانګې دي که په جمال کښې نرمي، ملائمت او سکون ډېر وي نو په جلال کښې شوخي، غصه، په جسامت کښې لوئے والے، د خوف ، وېرې او هيبت جذبات ډېر وي، حمزه د جمال او جلال د دواړو تجزيه کړې ده۔ کله د

جلال نه متاثره شي او کله هم دغه جلال ته د جمال نامه ورکړي ـ کله چې په علمي رنګ کښې د حُسن مشاهده کوي نو ددۀ په روح جلالي کیفیات طاري شي او کله چې ورته د روحانیت معراج نصیب شي او عشق ئې تکمیل ته اورسي نو بیا په خپل زړۀ او روح کښې د جمالي شان جلوي محسوسوي۔

هسې زه دي له جلال ویریدمه
سرترسره دې جمال کړو زما زړۀ (۱۸)

د ډاکټر حنیف خلیل صاحب د وینا مطابق حمزه صاحب د مشهور فلسفي د کانټ د جلال د تصور نه متاثره دے۔

"کانټ حرکي جلال په عظمت کښې اوریاضیاتي جلال په مقدار کښې ښودلے دے"۔ (۱۹)

نوحمزه صاحب په عظمت کښې دجلال زبردسته ترجماني کوي۔

ــ زه برندې سترګې او شډله څواني حُسن ګڼم
نۀ نرۍ ملا لکه ویښتۀ نۀ ټیټې مړې سترګې (۲۰)

ــ ډېر چې ښکلي جمالي شي جلالي شي
ډېرچې جلالي شي کله کله جمالي شي (۲۱)

ــ مۀ ټیټوه سترګې خپل شډل دې ساته حُسن
ښکلیه درته خوئي دپښتانۀ کول پکار دي (۲۲)

ــ زۀ په هغه پښتني حُسن مئین یم
چې هوسۍ وي خو کاته ئې د زمري وي(۲۳)

حمزه بابا او مغربي جمالیاتي نظریات:

دمغربي هېوادونو سره تعلق لرونکو پوهانو چې د حُسن په باب کښې خپل کوم نظریات او افکار وړاندې کړي دي په هغوي کښې د ډېرو سره د حمزه بابا په کلام کښې فکري مماثلتونه هم شته او د هغوي په پیروۍ کښې ئې دغه نظریات د جمالیاتو د بحث موضوع جوړه کړې ده۔ اوس به په دغه نظریاتو سره د مثالونو رڼا واچؤو۔

د وحدت جمال نظریه:

دې ته امتزاجي نظريه هم وائي په دې کښې معروض او موضوع دواړه برخه اخلي، دا خالصه اسلامي جمالياتي بشپړه نظريه هم ده۔ او که مغربي فلسفيانو وړومبې معروضي نظريه او بيا موضوعي نظريه وړاندې کړه خو لا د حُسن ماهيت نيمګړتيا لرله۔ نو اليګزنډر بام ګارټن دحُسن يو معتدله نظريه پېش کړه او دا مسئله ئې هم حل کړه او صفا ئې اووې چې حُسن نۀ صرف معروضي دے او نه فقط موضوعي دے بلکه دا ددواړو د مکمل هم اهنګۍ نه پېدا کېږي،

حمزه صاحب د ښکلا معروضيت او موضوعيت دواړه مني۔

ـ فرق د زړۀ او سترګو دجدا جدا ادراک دے
اوګنې جلوه دې هم دننه هم بهر ده۔ (۲۴)

ـ ثاني مې نشته زه خالق د حُسن و عشق يم
زمانظر دے چې عابد او هم صنم زيږوي۔ (۲۵)

ـ زه د هر يو ښکلي مئين نۀ يمه
خو د هر يو په موسېدو کښې ته ئي (۲۶)

ښکلے مخ معروض دے او مئين چې د حُسن سره مينه کوي نو دائې موضوعي کيفيت او جمالياتي ذوق ته اشاره کړې ده۔

## د جذب انجذاب نظريه: ـ نظريه هم ګدازي: (EINFHOLUNG)

دا نظريه د جرمني مشهورفلسفي "لِپس" ته منسوب ده۔ مفهوم ئي دادے چې کله زمونږ احساس او جذبه د نور چا د احساساتو او جذباتو سره شريک شي نو د حسين څيز له مخه راته نور څيزونه هم ښکلي ښکاره شي يا د قبيح (بد رنګ) څيزله مخه راته نور څيزونه هم بدرنګ ښکاره شي نو هم دغه هم ګدازي ده۔ يا په نورو الفاظو کښې به ددې وضاحت داسې اوشي چې کله د ذوقِ جمال شاهد د جمالياتي مشاهدې په دوران کښې خپل باطني سوز او عشق په معروض کښې ويني او دۀ ته د ښکلا ادراک وشي۔ حالانکه دا ددۀ خپل اندروني سوز د ښکلا په رنګ کښې وځلېږي ځکه خو په

شاهد د جمالياتي مشاهدې نه پس د مستۍ ، سوز، جذب، بېخودی، کيف، سرور، او خمارنه ډک کېفيات طاري شي۔ حمزه دغه ټول کېفيات د شعر په ژبه راوړي دي او دا په دغه نظريه دلالت کوي۔

ـ خوي چې د ساقي مې درياب[ي] غوندې ښکارېږي
نن مې جوړ پکار شو لغزشونه مستانه (۲۷)

ـ ښکليه ته لاړ شه چې تازه مې شي د زړۀ داغونه
نمر چې فنا شي، پس ددې نه او ځليږي ډيوې (۲۸)

بس خو د جذبې د محبت په مخ ښکاري سرۀ ساتم
وې دننه وينه چې ئې ګورې بهر اوښکه ده (۲۹)

په محبت کښې هسې هېر له خپله ځانه يمه
لکه چې خوب د ليونې را ياد ېدے نۀ شمه (۳۰)

کېف دے په لټون کښې داسې ورک ورپسې ښه يمه
چم د ښکلې يار خو مې دې ښهر کښې موندلے شو (۳۱)

مستي د يار د سترګو مې سرور شو د ژوندون
مسکا ئې په لېمو کښې د مخ نور شو د ژوندون (۳۲)
زۀ له ميو توبه ګار ووم لاله رُخه
جام مې ستا د لبو اوليد خمار راغے (۳۳)

د حُسن حرکي نظريه: (DYNAMIC THEORY OF BEAUTY)

حُسن د جامد څيز نوم نۀ دے يعني جزوي حُسن چې په مادي څيزونو کښې محسوسيږي ددې وجه داده چې يو جُز د همېشه د پاره د خپل کل نه جدا او سېدل نۀ خوښوي او تل د خپل اصل سره د مېلاوېدو په تکل کښې وي معروضي حُسن په دې وجه په حرکت کښې وي چې هغه د ښه نه ښۀ او د خپل اصل سره د بيا مېلاويدو د پاره بېقراره وي۔

حمزه صاحب ددې نظريې هم منونکے دے

بدليږمه زه هم، په هر ساعت که ته بدليږې
هر دم ولې ښکاريږې ستا جمال نوے نوے (۳۴)

هيڅ نۀ ئې بدل خو په بار بار دې ليدل غواړم
نوے نوے ښکارې څۀ عجبه تماشا ئې (۳۵)

دبوقلموني او تنوع نظريه

دا نظريه مشهور فلسفي سېنټ اګستائن (دافريقي ۳۵۳تا ۴۳۰) ته منسوب ده.

تنوع او بوقلموني د حُسن يو خاص صفت دے په کائنات کښې که په ښکاره په معروضاتو، مظاهرو اوشيزونو کښې د رنګونو، خوندونو او هېئتونو اختلاف او تضاد ښکاري خو دا په حقيقت کښې د خوروررو صفاتو د کثرت نه يو حُسن او وحدت وجود موندلے دے که خوارۀ شيزونه دي او که تراخۀ. که توره تياره ده او که د رڼا پلوشې دي. که دورځې سپينوالے او رڼائي ده او که دشپې تروږمې دي که د خزان د زيړو پاڼو رنګونه دي او که د سپرلي د ګلونو رنګونه او خوشبويانې دي، داټول په حقيقت کښې ښکلي دي، حمزه صاحب ددې نه متاثره ښکاري.

ـــ له تراوه خويه دې ژوند د عشق مې خوږ شو
په نارنج کښې وي ګلونه خوش نکهته (۳۶)

ـــ اختلاف د قبيلو د پښتون څۀ دے
دا ګلان دي همه واړه له يو باغه (۳۷)

د حُسن افاديت نظريه:

د يونان فلسفي سقراط په نقطه نظر چې کوم شيز د کوم مقصد دپاره پېدا شوے دے او هغه کار او مقصد ترسره کوي نو هغه ښکلے دے، که چرې دبني نوع انسان په څۀ فائده، خېر اوښېګړه نۀ شي راتلے - نو بيا ورته مونږ ښکلي نۀ شو وئيلے بلکه بدرنګ دے. دحمزه په شعور اوتخيل ددې نظريې هم اثر پوهېږي دے.

ـــ په بلبل کښې سوز، په ګل کښې خوشبوي وي
ته وفا کوه، زما بې ژړا څۀ زده (۳۸)

داظهاريت نظريه:

داټلي دانشور کروچے دوجدان کامياب اظهار ته حُسن وائي او ددې ناکام اظهار ته قبح اوبدرنګي وائي. صوفي حمزه ددغه وجداني لمحاتونه په خپله تبريږي او دآمد، شاعرانه

الهام دغه وجداني رنګ دفن سبب ګڼي، او څومره چې د يو عارف وجدان زيات ه ځلاموندلې وه نودومره به د هغه د وجدان د سپيځلتيا له کبله په شاعرۍ کښې عظمت، علويت او ارفعيت هم زيات وي. حمزه صاحب داظهاريت د نظريې په پېروۍ کښې وائي.

ـ هرسحر ملک د شعر کړي حمزه ته الهامونه
کېف پکښې ملکوتي وي ناسوتي ساز په سخن کښې (۳۹)

د افلاطونس نظريه "جمالياتي وجدان" (AESTHETIC INTUITION)
په دې حقله نصير احمد ناصر وائي.

"د افلاطونس دوجدان تصور داوسني دور فلسفيان ګوئټې ، کروچې او اقبال بې حده متاثره کړل. دې ټولو د حقيقت د ادراک دپاره او د حُسن د مشاهدې دپاره وجدان ته په عقل ترجيح ورکړې ده." (۴۰)

حمزه صاحب هم ددغه وجدانيت پسند ډلې نه ښکاري ځکه خوداسې اظهار کوي.

ـ ډېر علم دې راکړو شکريه ده شکريه ده
داتيرې مې نورې په وجدان مۀ راوله (۴۱)

ـ بس خو يو اهنګ ئې په ګنبد کښې دوجدان وي
څۀ ده دادنيا خو تېره شوې ترانه ده. (۴۲)

کاردوجدان دے حقيقي پوهه
حمزه منم چې منطق دليل ښۀ دے (۴۳)

تکميل او کمال: (PERFECTIONISM)

تکميل او کمال د ښائست ديوتوکي حيثيت لري د جمالياتو مشهور پوهانو سېنټ اګسټائن او والف تکميل او کمال د حُسن خاص صفات شمېرلي دي. داحقيقت دے چې قطره او څاڅکے د خپل تکميل په تکل کښې ځان سمندر ته اورسوي او ښکلے شي، او زره په دې کوشش کښې د ښکلا (تکميل) د حاصلولو دپاره ځان نمر ته اورسوي.

حمزه بابا ددغه دواړو عالمانو سره په دې نقطه نظر کښې متفق دے. د هغۀ په خيال يواځې حسن تکميل نۀ غواړي بلکه عقل ، عشق او حسن درې واړه کمال ته درسېدو په تکل کښې

وي۔ خو ددغه مقام حاصلولو دپاره به درې واړه دامتحان د سختو مرحلو نه تېرېږي نو هله به تکمیل مومي، څکه خووائي۔

ـ کمے د عشق هله پوره شي چې ستم اوزغمي
کمے د حسن پوره کیږي دپنداره سره۔ (۴۴)

ـ تکمیل د محبت خو په دې کیږي چې رسوا شي
ناقص لاهغه دُر وي چې شي پاتې په صدف کښې (۴۵)

ـ عاشقۍ لره تکمیل په هجران ښه وي
پائېدار بوټلے کېږي تل په لنګه (۴۶)

دهوګارتھ فلسفه (۱۶۹۷تا ۱۷۶۴ لندن)

افلاطون خط مستقیم او دائرې ته ښائسته وائي۔ خو ولیم هوګارتھ کږلېچونه او کوږوالے هم ښائست حسابوي۔

ناصر صاحب دهوګارتھ دنقطه نظر په حواله وائي۔

"دفطرت حسن دتکلف ، پیچېدګۍ، کوږ والي یا ترخ والي منت بارد ے ، په دې وجه هغه ددې نظریې سره داجمالیاتي اصول وضع کړي دي چې کوږوالے یا ترخ والے د حُسن افرینۍ سبب د ے او دې ته ئې د خطِ حُسن نوم ورکړے د ے۔" (۴۷)

دحمزه بابا فکر دهوګارتھ سره په دې جمالیاتي فکر کښې بې حده مماثلت لري۔

ـ کږلېچونه هم د حُسن ترجمان دي
چې د ښکلو د وربل لاړي کړې دي (۴۸)

د پرائس (۱۷۴۷ نه ۱۸۲۹) او ایډمنډبرک فلسفه (۱۷۲۹ نه ۱۷۹۷)

دواړه د برطانیې د جمالیاتو عالمان وو□ ایډمنډبرک وائي

"جلیل اشیاء اپنے حجم کے لحاظ سے بڑی ہوتی ہیں اور حسین چیزیں مقابلۃً چھوٹی ہوتی ہیں حسن کو ملائم اور چمکدار ہونا چاہیے۔ لیکن جلال کو کھردرا اور سادہ" (۴۹)

مغربي فلسفي" سېسرو" نزاکت دښکلا د جمال عنصر وګڼلو په سنسکرت ادبیات کښې هم د شډلوالي برعکس نزاکت ښائست بللے شوے د ے۔ خو ایډمنډبرک د جلیل څیز تعریف دا

کوي چې په کوم څيز کښې "جلال" وي نو هغه به ضرور شي، ځيګ او ساده وي. حمزه بابا ددوي سره د جمالياتو نظرياتي همسفر ښکاري.

ـ زۀ شي شي نازونه ښۀ ګڼم
غواړم دې له سترګو پښتانۀ کاتۀ (۵۰)

ـ مۀ ټيټوه سترګې خپل شي دې ساتۀ حسن
ښکليه درته خوي د پښتانۀ کول پکار دي. (۵۱)

دونکل مان نظريه:-

په اتلسمه صدۍ کښې ونکل مان نومې جرمني عالم هم د جمالياتو خدمت کړے دے. او هغۀ د اشراقي فلسفې علمبردار ؤ. کومه چې د تصوف او روحانيت سره ډېر مماثلت لري. ونکل مان هم په کائنات کښې د ازلي حسن د جلوې د موجودګۍ ذکر کوي. په دې حقله مجنون ګورکهپوري داسې بيانوي "وہ حسن انفرادی کو ایک "حسن کل" کا جلوہ بتاتا ہے۔ کائنات کے ذرہ ذرہ میں ایک ہی شاہد ازل کا جمال نظر آتا ہے اور ہمارا کام ہر حسین چیز میں اسی حسن مطلق کو دیکھنا ہے۔"(۵۲)

مونږ که په ژور نظر د حمزه صاحب د حسن دې نظريې ته وګورو نو د ونکل مان سره هم مماثلت لري، د مغربي جمالياتو رنګ، انداز او رجحان لري. حمزه بابا دغې "جلوې" ته د "ادا" نامه ورکړې ده.

ـ ستا يوه ادا خو په هر يو ښکلي کښې ښکاري
حسن دې ويشلے دے په ټولو خوکم نۀ شو (۵۳)

روښاني شاعر دولت الله ورته هم "جلوه" وائي. کله ورته د "نشان" نامه ورکړي او سيد رسول رسا صاحب ورته د "سيوري" خوږ نوم ورکړے دے.

ـ خويو سبورے ئې داشنا د جمال بوله
زيبائي چې په همه خوبانو کښې ده.

دافلاطونس فلسفه: (مصري فلسفي ۲۰۴ء نه ۲۷۰ء)

نصير احمد ناصر د افلاطونس نقطه نظر داسې بيانوي.

"آنکھ سورج کو کبھی نہ دیکھ سکتی اگر وہ سورج کی طرح بن نہ گئی ہوتی۔ قلب، حسن کو کبھی نہ دیکھ سکتا اگر وہ پہلے خود حسین نہ بن گیا ہوتا۔ ہر شخص کو پہلے فطرت الٰہی میں شریک ہونا چاہیے بیشتر اس کے کہ وہ الوھیتی حسن کا مشاہدہ کر سکے۔" (۵۴)

حمزه بابا د افلاطونس ددې نقطه نظر سره همنوا دے۔

ـ نمر که وینم خو د نمر په رڼا وینم
ستا جمال راته ځرګند ستا په جمال شو۔ (۵۵)

ـ بې نمره ممکن نهٔ وي د نمر لیدل
تاته به هم ستا په نظر ګورمه (۵۶)

سعید احمد رفیق په دې باب کښې د افلاطونس دغه خیال داسې راوړي۔

"افلاطونس کے نزدیک حسن کانُور جاندار اشیاء میں نسبتاً زیادہ منعکس ہوتا ہے۔ گوئٹے بھی حسن اور زندگی کو ایک دوسرے سے قریب سمجھتا ہے۔ حسن زندگی سے ماخوذ ہے۔ زندگی کے بغیر حسن کا تصور ممکن ہی نہیں۔"(۵۷)

حمزه شینواري هم دافلاطونس په شان ژوند او انساني انا د ښکلا مظهر ګڼي۔

ـ مخ کښې چې د مړیو ښکلا نهٔ وي څهٔ پوهیږې
داځکه چې شوے ترې هجرت دے د ژوندون (۵۸)

ـ حسن چې هر چا وته جلوه په جدا رنګ کا
بې له دې نه څهٔ دي یو صفت دے د ژوندون (۵۹)

جمالیاتي عقلیت: (AESTHETIC RATIONALISM)

دحقیقت د عرفان دپاره د وحې نه پس د عقلِ سلیم او وجدان ضرورت وي۔ کله چې عقلِ سلیم د هدایت د پاره لاربنود جوړشي نو په دهٔ کښې بصیرت او نُور پیدا شي۔ هم په دغه نُور د انسان زړهٔ او روح منور شي، د جمالیاتو د علم په اصطلاح کښې دداسې عقل د پاره جمالیاتي عقلیت لفظ استعمالیږي۔

حمزه شینواري هم د حقیقي حُسن د عرفان د پاره نُوراني عقل معتبره ذریعه ګڼي۔ د حمزه په غزل کښې داسې بر ښېي چې هغه د حافظ شیرازي صاحب په شان په یو روحاني کیف و سرور کښې داسې نهٔ سرشاره کیږي چې ګڼې ددنیا او مافیها نه لاپروا او ناخبره پاتې شي۔ د هغه عشق او جنون عقلمند او هوشمند دے، حمزه په جذب و مستۍ جوش او حیرت کښې ډوب هم شي خو بیا ئې هم عشق عقلمندانه دے اګر چې هغه بېخودشي خوددې سره سره د حقیقت او معرفت د رازونو سره اشنا هم وي او هغه دغه مقام ته "کامل جنون" او کله ورته "هوښیار جنون"وائي۔

ـ چې کامل د چاجنون شي دادعقل پختګي ده

بيا وحشت له روغو نهٔ کړي چې سودا په ډېريدو شي. (۶۰)

ـ ميني دې حمزه ته څهٔ هوښيار جنون ورکړے دے
نهٔ کاندي تکل له کوره سمې ته هم غر ته (۶۱)

نن اشنا دي راکتلي چې سرشار يم
په کاسه پسې کاسه ده خو هوښيار يم (۶۲)

تن زما د هوش لمن ده په پنجه د ليونتوب کښې
په محفل کښې صحرائي يم، په بيديا کښې وينم کلي (۶۳)

قدمونه مې بې واکه داشنا کوڅې ته سم کړي
خلقه زهٔ که لېونے يم، زما مينه فرزانه ده. (۶۴)

دلته به شي دې تا جنون خرداشنا مئينه
پام په صحرا کښې داسې کريکې ليونۍ مه وهه (۶۵)

## حوالې


1 حمزه شینواري دیوان، صفحه نمبر ۴۲۷ یونیورستي بک ایجنسي اپریل ۲۰۱۳
2 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۴۵
3 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۰۸
4 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۴۴
5 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۶۲
6 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۲۷
7 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۹
8 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۹۴
9 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۰۸
10 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۱۱
11 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۰۶
12 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۰۷
13 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۰۵
14 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۳
15 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۲۰
16 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۹۸
17 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۴۴
18 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۸۹
19 خلیل حنیف دښکلا هنداره ، صفحه نمبر ۱۰۳ دانش کتب خانه پېښور ۱۹۹۸
20 حمزه شینواري دیوان، صفحه نمبر ۵۲۶
21 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۳
22 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۷۵
23 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۷۰
24 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۰

25 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۶۱
26 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۵۳
27 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۳۴
28 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۴۸
29 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۸
30 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۲۱
31 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۱۸
32 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۸۸
33 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۵۸
34 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۹۵
35 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۴۹
36 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۳۱
37 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۰۴
38 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۱
39 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۰۷
40 ناصر نصیر احمد تاریخ جمالیات جلد اول صفحه نمبر ۱۹۷،
41 مجلس ترقي و ادب ۲ نرسنگ داس گارتز کلب رو لاور 1961
42 حمزہ شینواری دیوان، صفحه نمبر ۳۱۲
43 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۹
44 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۷۹
45 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۷۰
46 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۰۶
47 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۰۸
48 ناصر جمالیات جلد اول، صفحہ نمبر ۳۸۲
49 حمزہ شینواری دیوان، صفحہ نمبر ۳۹۴
50 ناصر نصیر احمد، اقبال اور جمالیات، صفحہ نمبر ۱۲۹ اقبال

اکادمی پاکستان114 میکلوڈ روڈ لاہور۔1981
51 حمزہ شینواری دیوان، صفحہ نمبر ۲۳۲
52 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۷۵
53 گورکھپوری مجنون تاریخ جمالیات صفحہ نمبر ۵۳ جاوید پریس
کراچی ناشر مکتبہ عزم و عمل کراچی1966
54 حمزہ شینواری دیوان، صفحہ نمبر ۲۱۵
55 ناصر تاریخ جمالیات جلد اول، صفحہ نمبر ۱۷۹
56 حمزہ شینواری دیوان، صفحہ نمبر ۲۰۷
57 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۱۸
58 رفیق سعید احمد حقیقتِ حُسن صفحہ نمبر ۱۲۵ قلات پریس
کوئٹہ 1979 ناشر قلات پبلشرز کوئٹہ
59 حمزہ شینواری دیوان، صفحہ نمبر ۱۸۹
60 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۸۹
61 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۴۱
62 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۳۵
63 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۷۴
64 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۴
65 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۹
66 هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۶۰